استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

لیکوال: سید حسام مل(والی ولایت لغمان در زمان تجاوز شوروی بر افغانستان)
استونکی: انارگل خوستی سه شنبه ۱۷ سپتمبر ۲۰۲٤

# د کنفرانس او د هغه د پریکړنی او رغنده پریکړو او تصامیمو په درشل کی

محترمو ملگرو او د ربښتینی کېن اړخ د لاری نه ستړی کیدونکو لاروایانو.

لکه چی تا سو ته پوره معلوم دی ، اوه کاله مخکی زمونږ غورځنگ په هغه شرایطو او حالاتو کی چی د طالبی برلاسی زمونږ په هیواد کی مسلط وه او کېن اړخ لارویان د نا امیدی اوبی سرنوشتی توره تړږمی کی لاس او پښی وهل او له خپل گران هیواد څخه د مهاجرت اویا هم د وتلو په حال کی وه سر را پورته کړل اوټولو کېن اړخ ، دموکرات ، وطنپال او پرهیواد مینو روښنفکرانو ته بلنه ورکړ، چی خپل صفونه سره نژدی کړی او د آزادی خواهی او ورورگلوی رپانده بیرق اوچت کړی او د خپل هیواد د اولس، او د بی وزلو اوزیارکښانو په پلوی خپل نه ستړی کیدونکی مبارزی ته نوی بنه ورکړی، او د خلاصون لاره ولټوی، له بده مرغه د وطن د گوند ځنی نیم لاری ملگری د خپل ناوړی او شوم اهدافو په نظر کی نیولو سره د وطن د گوند ډیر شریف او پاک لارویان یی ناسم لاری ته رهبری کړل، چی تاسی ټولو ته اوس لکه د لمر په څیر روښان دی.

د یادونی وړ دی، چی لا تر اوسه ځنی ځنی خپل لاره ورکه کړی او د بی سرنوشتی شپی او ورځی تیروی، اوحتا ځنی په دی باور هم وه چی امریکا او د هغه غربی یاران به زمونږ وران هیواد له سره به ودان کړی، او په همدی پلمه نن هغه خوش باور او د نیمی لاری دوستان د هغه قسم خوړلی غلیمانو په قطار کی ولاړ او خپل لاره دربښتینی کېن اړخولارویانو څخه بیل او د تاریخ په لزنجار کی لاس او پښی وهی . او خپل دری لاپسی توروی.

گرانو ملگرو، زمونږ لار روښان او ربښتینی دی، اوهغه هوډ چی مونږ د مبارزی له پیل څخه کړی وه همغسی ټینگ او استوار په مخ ځو. هیله لرم چی د آینده غورځنگ د کنفرانس پریکړی د افغانستان د زحمتکشانو د ژوند د سمون او د دی وضعی دراوتلو لاره هموار کړی.

زه په دی باور یم چی د دی کنفرانس ګډونکونکی ملګرو او دوستانو دهغه پوه او یاو تجربی په لرلو سره وشی کولای چی د ملګرتیا په اتموسفیر کی ټول ستونزی وځیړی اوله ستونزوځخه د وتلو لاره هموار کړی، او د خپل راتلونکی نسل د پاره د مبارزی سمه لاره په ګوته کړی، او خپل وجدانی او انقلابی دندی په پوره ایمانداری سره سرته ورسوی.

زه یوځل بیا د آینده غورځنګ رهبری او د هغه په سر کی د ګران او محترم دانشمند دوکتور عبدالله (نایبی) او د غورځنګ له غړو او خپل دوستانو نه د زړه د کومی چی د دی کنفرانس دجوړیدو په درشل کی هلی ځلی کړی او کوی مننه کوم.

او زه پخپل وار سره تعهد کوم چی د تاسو سره یوځای د خپل غورځنګ دلا پیاوړی کیدو په لاره کی له هیڅ ډول هڅی اواند ځخه سر غړونه ونکړم او د کنفرانس د پریکړو ټول اسناد د خپل لاری مشعل او راهنما وګرځوم . زه خپل دغه پیغام د دی لاندی خپل شعر سره سرته رسوم.

ای د خوارو اوبی وزلو پلویانو

ای د سمی لاری ګرانو عزیزانو

لار پیچلی، ستاسی لوی عزم غواړی

را نژدی کړی خپل صفونه لارویانو

په یوالی سره رسی خپل هدف ته

ځانځانی ګټه نشته خوږ یارانو

هوښیاری سره ګامونه مو اوچت کړی

زر بری مو شی په برخه هوښیارانو

د نقاد نړی لید په روښانه رڼا کی

هرستونزه به شی حل حق پرستانو

******************************

دآینده نهضت دکنفرانس د ښی لاسته راوړنی په هیله

حسام

---

استقلال – خپلواکی: " بُزک بُزک نمیر که جو لغمان میرسد."

salamwatanam@gmail.com